محمدنعمان دوست
۲۰۲۶/۰۷/۲۵

# ښوونځي ته د نه‌تګ هڅه

له هلکه یې کمیس ویستلی و. کورکمن یې پرې موښلی و. هدف یې دا و چې د پوټکي رنګ یې ژیړ شي، د شاهي د پوهنې وزارت پلاوي ته یې ناروغ معرفي کړي او په ښوونځي کې له شاملېدو وژغورل شي!

دا د یو کلیوال مشر د خولې نکل و چې دا صحنه یې خپله لیدلې وه.

زموږ ځینې خلک اوس مرحوم ظاهرخان پسې خبرې کوي، غیبت یې کوي، بد یې یادوي؛ خو دې ته هیڅ نه ګوري چې هغه ته د څه ډول ولس، مشرتوب ور تر غاړې و.

د ارواښاد دور کې بنیادي پروژې تطبیق شوې، د پوهنې تعمیم او معیاري کېدو ته کار وشو، داسې چې آن د شپږم ټولګي فارغ به دولتي ماموریت کولای شو او کابل پوهنتون خو بیخي د نړیوال معیار لرونکی شو. داسې چې هم یې بهرني محصلان لرل او هم استادان.

د تعمیراتي پروژو یې دا کیفیت و چې شاوخوا، اویا کاله وړاندې یې د سالنګ شهکار پروژه داسې تطبیق کړه چې موږ یې د نن عصر په تکنالوژۍ او پرمختللو تخنیکونو، په ترمیم کې عاجز یوو.

د زغم یې بیا دا صورت حال و چې داود خان پرې کودتاه وکړه، څلویښت کلنه واکمني یې ترې ونیوله؛ خو بابا، د وطن د بربادۍ د مخنیوي په خاطر، نه تنها دا چې مخالفت ونکړ؛ بلکې د یوه لیک له لارې یې تبریکي ورکړه او د لا ښه خدمت کولو دعاء یې ورته وکړه.

**اروا یې ښاده**

--
نن یې لکه چې د تلین ورځ وه .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ